# د آرياني ژبو په ډلبندۍ کې د پښتو ژبې دريځ

څېړندوی شريف الله دوست

د آرياني ژبو په ډلبندۍ کې د پښتو ژبې دريځ

څېړندوی شريف الله دوست

# The Position of the Pashto in the Classification of Aryani Languages

Assistant Professor Sharifullah Dost

ISBN 978-9936-661-69-1

9 789936 661691

2023

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د ژبو او ادبیاتو مرکز
د لرغونو ژبو او ادبیاتو انستیتوت

# د آرياني ژبو په ډلبندۍ کې د پښتو ژبې دريځ

څېړندوی شريف الله دوست

**د کتاب ځانګړنې:**

**د کتاب نوم:** د آرياني ژبو په ډلبندۍ کې د پښتو ژبې دريځ

**ليکوال:** څېړندوی شريف الله دوست

**لارښود استاد:** څېړنپوه دوکتور خليل الله اورمړ

**ايډيټور او مهتمم:** څېړندوی محمد اسحاق مومند

**ډيزاين:** محمد مجتبی همايون

**د چاپ کال:** ۱٤۰۲ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

**د چاپ ځای:** بهير مطبعه

ISBN : ۱- ٦۹- ٦٦۱- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**

د لارښود استاد نظر ........................................ أ

تقريظ (څېړنوال رحيم الله حريفال) ..............................د

تقريظ (څېړنوال دوکتور رفيع الله نيازى) .......................... ز

سريزه............................................................ ۱

**لومړۍ څپرکی**

**د موضوع شالید**

**دویم څپرکی**

**د آرياني ژبو څېړنه، په ختيځو او لوېديځو څانګو د هغوی ډلبندي**

الف- دآرياني ژبو لنډه پېژندنه ................................... ۲٤

ب- د آرياني ژبو ډلبندي ......................................... ۳٤

د آرياني ژبو د توپير لاملونه ..................................... ٤٤

د آرياني ژبو ختيځه څانګه........................................ ٥٦

لوېديځه آرياني څانګه............................................. ۹٥

**درېيم څپرکی**

**له ۱۸۸۸م کال نه را په دېخوا تر ننه د ټاکل شوو معيارونو د تطبيق څېړنه**

ولې د ۱۸۸۸م کال نومونه؟ .........................................۱۳٥

له ۱۸۸۸م کال نه را په دېخوا تر ننه د ټاکل شوو معيارونو د تطبيق څېړنه۱۳۸

د اوستايي ژبې فونولوژيکي(غږيز) او... ..........................۱٥۷

د پښتو او اِوستا اړيکې .............................................۱٦۲

## څلورم څپرکی

## له همګروپو ژبو سره په مستند ډول د پښتو ژبې د نسبي اړیکو موندنه


الف) د پښتو ژبې نسبي اړیکې د همګروپو ژبو له ختیځې څانګې سره...... ۱۶۹
۱- له اوستا ژبې سره د پښتو ژبې نَسَبي اړیکې.................................... ۱۸۳
۲- له باختري ژبې سره د پښتو ژبې هویتي او ماهیتي اړیکې؛ ................ ۱۸۶
ب) د پښتو ژبې نسبي اړیکې د همګروپو ژبو له لوېدیځې... ................. ۱۹۳
د ) پښتو او دري – فارسي لرغونتوب ......................................... ۱۹۳
پایله ....................................................................... ۲۴۶
وړاندیــــزونه ............................................................ ۲۴۸
مأخذونه .................................................................. ۱۳۵

# د لاربسود استاد گزارش

۱۹مه پېړۍ د معاصرې او تاریخي ژبپوهنې د اوج پېر شمېرل کېږي. په دې وخت کې یو شمېر ژبپوهانو لکه: د لوباتسکې قانون Lubotsky's Law , د گریم قانون Grimm's Law ، د ورنر قانون Verner's Law ، د روکې قانون Ruki law او همداسې د برتولومه قانونlaw Bartholomae's ؛ د اندواروپایي ژبو د غږپوهنې د تحول په برخه داسې قوانین وضع کړل چې لومړی یې د دې کورنۍ غږیز سیستم تثبیت کړ او بیا یې په ژبښاخونو او ژبڅانگو ووېشله. د اندو آریاني (آریک) ژبڅانگه یې په اندوآري( اندو آریایي) او آریاني ژبښاخونو ووېشلې. آریاني ژبې د اندو-اروپایي ژبکورنۍ، آریکAric/ ژبښاخ ژبې دي چې پر دوو لویو گروپونو ختیځ او لوېدیځ باندې وېشل کېږي. آریاني ژبې یوه لویه جغرافیایي ساحه په بر کې نیسي. په ټولیزه توگه (ډلبندي/ classification ) یوه علمي اصطلاح ده چې د یوه نَسَب ژبې د بېلابېلو ژبپوهنیزو هویتونو له مخې څېړل کېږي. دې څېړنیز اثر کې دوې علمي اصطلاحگانې شته یوه یې (د آریاني ژبو ډلبندي) دویمه یې د دوی په منځ کې (د پښتو ژبې دریځ) او موقف. د آریاني ژبو اصطلاح په خپل ځان کې ژبپوهنیز بنسټ لري په دې معنا چې د آریاني ژبو اصطلاح نن ورځ د افغانستان تر پولو اوړي په سیمه ییزه سطحه څېړل کېږي کله لا له سیمي هم ور اوړي یوې بلې وچې ته د دې ژبو لړۍ او کړۍ رسیږي. د تاریخي – تطبیقي ژبپوهنې له نظره چې د آریاني ژبو په ډله کې داسې ژبې هم شته چې د تور سمندر څخه پیل تر مغولستان او چین تر دیواله پورې یې د ویونکو لمن

غوړیږي. لکه: خوارزمي، ساکي، سغدي او نورې ژبې. پر دې بنسټ نو باید په دې پوه یو چې د (آریاني ژبو) مفهوم څو اړخیز دی. لکه: کرونولوژیکي، ژبپوهنیز، نَسَبي، جغرافیایي، لهجوي او نور... " پښتو ژبه د افغانستان ملي او رسمي ژبه ده. پښتو نن د نړۍ د هغو پنځوسو معتبرو ژبو په شمېر کې ولاړه ده چې بډای ادبیات لري او د بشر د زیاتو وګړو د لیک او لوست ژبه ده. پښتو ژبه په آریاني ژبو کې په شمال ختیځې څانګې پورې اړه لري. ټولو ته څرګنده ده چې، پښتو ژبه د ژبپوهانو په نظر څوک یې د اوستا او ځینې یې د ساکې او یا باختري ژبې پاتېشونې ګڼي .په آریاني ژبو کې پښتو ژبه د ګرامري جوړښت او سیمانتېک له مخې ځانګړی ځای لري. دا ژبه واقعاً د نومیالیو او ننګیالیو ژبه وه او موږ ته یې ډېر ادبي بدیعي آثار راپرېښې دي(د ادبیاتو په برخه کې وګورئ د زلمي هېوادمل اثر «پښتو نثر اته سوه کاله پخوا».) خو ډېر افسوس موږ پښتانه په دومره ادیبانو، فولکلوریستانو او ژبپوهانو کې د دغو مرغلرو د ګرامري جوړښت او تاریخي څېړنو په پېژندلو کې پاتې راغلي یو. موږ د دې ژبې اصلي مور او پلار لا ونه پېژندل. که چېرې د بهرنیو پوهانو څېړنې نه وای موږ به د ځینو ناخبرو لیکوالو هماغه زړې ببولالې اورېدلې چې وېلې دي: «پښتو ژبه د یهودیانو ژبه وه».

اوس محترم څېړنیار شریف الله دوست د اوستا او سنسکریټ له لیکدود او ګرامر سره پوره بلدتیا لري او په راتلونکو پروژو کې کولای شي دا تشې ډکې کړي. د دغه اثر په برخه کې لیکم دغه پروژه چې لیکوال یې د خپلو ټولو شته امکاناتو او اسانتیاوو څخه په استفادې د پروژې له اوټلاین سره سمه یې په خپل وخت بشپړه کړې چې په هره برخه کې یې زما لارښوونې او سپارښتنې په

پوره ډول په خپل اثر کې عملي کړي دي. د ليکوالۍ او څېړنو ټول اصول يې رعايت کړي دي.  دا علمي پروژه ټول څلور څپرکي لري چې هر څپرکی يې د پلان سره سم څېړل شوی دی. زه دا څېړنه تکميل بولم. نور خپل نظر نه اوږدوم په دې تړاو به نور څېړنيز معلومات تاسې په دې څېړنيز اثر کې ولولئ . وروستۍ خبره داده چې د ښاغلي څېړنيار شريف الله دوست دا څېړنيز اثر (د آرياني ژبو په ډلبندۍ کې د پښتو ژبې د دريځ) په برخه کې يو مغتنم اثر دی چې په چاپ سره به يې پښتانه د نورو آرياني ژبو د پېژندنې تر څنګ د خپلې مورنۍ ژبې پښتو ژبنۍ ځانګړنې هم وپېژني. ځکه نو زه  لومړی محترم دوست د څېړنيارۍ د علمي رتبې څخه د څېړندوۍ علمي رتبې ته د لوړاوي مستحق ګڼم او د دې اثر د ژر چاپ سپارښتنه کوم.

په درنښت

څېړنپوه دوکتور خليل الله اورمړ

۱۴۰۱/۴/۲۲

# تقریظ

**د ژبو او ادبیاتو د مرکز د ۱۴۴۴/۱/۲٦ نېټې او ( ۱۷۱/۳۸۲) ګڼه مکتوب په ځواب کې:**

د ښاغلي څېړنیار شریف الله دوست د څېړندوی علمي رتبې ته د لوړاوي لپاره لیکل شوې علمي ـ څېړنیزه رساله: (**د آریاني ژبو په ډلبندۍ کې د پښتو ژبې دریځ**) مې ولوسته کومو سمونو ته چې اړتیا وه، له څېړونکي سره مې شریکې کړې.

کله چې د پښتو ژبې د منشاء او تاریخ په اړه بحث او څېړنه کېږي، تر ټولو جوته ستونزه دا وي چې د نوموړې ژبې ډېر لرغوني متون او سندونه په لاس کې نه لرو، نو اړ کېږو چې له نورو آریاني ژبو سره یې چې لرغوني متون او اسناد یې موجود دي، پرتلیزه څېړنه وکړو، چې دا ډول تحقیقات د پښتو ژبې په برخه کې مثبت ثابت شوي او نویو څېړنو ته یې لار پرانیستې ده.

څېړونکي له معمول سره سم په لومړي څپرکي کې د موضوع پر شالید رڼا اچولې ده او هغه آثار یې چې د آریاني ژبو په اړه په پښتو ژبه کې لیکل شوي دي، معرفي کړي او په پای کې یې له تېرو څېړنو سره د خپلې څېړنې توپیر په ګوته کړی دی.

دوهم څپرکی په ختیځو او لوېدیځو څانګو د آریاني ژبو ډلبندي او څېړنې ته ځانګړی شوی. د آریاني ژبو پېژندنه، د لرغونې دورې آریاني ژبې، د منځنۍ دورې آریاني ژبې او د آریاني ژبو نوې دوره یې د بحث موضوعات جوړوي او ورسره یې د درې واړو دورو آریاني ژبې په پرتلیزه توګه څېړلي او تشریح کړي دي.

د رسالې دربیم څپرکی له ۱۸۸۸ ز کال څخه را په دې خوا تر ننه د ټاکل شوو معیارونو د تطبیق پر څېړنه را څرخي. د ۱۸۱۸ ز کال قید د آریاني ژبو په برخه کې نوي پرمختګ ته وګرځي. یعنې له ۱۸۱۸ ز کال وړاندې آریاني ژبې په پراخه کچه په علمي او عملي ډول تر کتنې او څېړنې لاندې نه وې نیول شوې او له دې نېټې وروسته په عملي توګه یو شمېر پوهانو د آریاني ژبو ځینې لهجې او کلمې راټولې کړې او په یاده برخه کې یې مستقل آثار وپنځول.

څلورم یا هم وروستی فصل له همګروپو ژبو سره په مستنده توګه د پښتو ژبې د نسبي اړیکو پر موندنه راڅرخي.

د علمي ـ څېړنیزې رسالې په اړه به نورې تفصیلي خبرې خپله څېړونکی وکړي، زه خپل نظر په لاندې توګه په لنډو جملو کې څرګندوم:

ـ څېړونکي د رسالې په بشپړولو کې پوره خواري کړې، منځپانګه یې قوي او بډایه ده.

ـ په ګڼو موضوعاتو کې د لیکوال نظر هم جوت څرګندېږي، نو ښکاري چې څېړونکي موضوعات له هر اړخیزې څېړنې وروسته تحلیل کړي او نتیجه یې وړاندې کړې ده.

ـ د داخلي پوهانو د آثارو تر څنګ یې د څېړنې په بشپړولو کې د ګڼو بهرنیو پو٥هانو له آثارو څخه هم استفاده کړې ده.

ـ د اثر ژبه یې روانه او عام فهمه ده.

ـ دا علمي ـ څېړنیزه رساله د څېړندوی علمي رتبې ته د لوړاوي لپاره کافي ګڼم او څېړنیار شریف الله دوست د دې اثر په لیکلو او نورو اړوندو علمي

مسؤولیتونو په بشپړولو سره د څېړندوی علمي رتبې ته د لوړاوي وړ گڼم او له لايزال رب څخه يې په ژوند او علمي چارو کې د برياليتوب غوښتنه کوم. په دې هيله چې اثر چاپ او گټه يې عامه شي.

په درنښت

څېړنوال رحيم الله حريفال

# تقریظ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د محترم ریاست د منظورۍ او د ژبو ادبیاتو مرکز د ۱۴۴۴/۱/۲٦ نېټې، د ۳۸۳/۱۱۷ کڼه لیک په ذریعه مې د ښاغلي څېړنیار شریف الله دوست (د آریاني ژبو په ډلبندۍ کې د پښتو ژبې دریځ) تر سرلیک لاندې د علمي – څېړنیزې رسالې متن تر لاسه او ومې ولوست. د رسالې د منځپانګې د ځینو تېروتنو او په ځینو برخو کې د اصلاح او سمون لپاره مې په لیکلې بڼه خپل نظریات د ژبو او ادبیاتو مرکز له ښاغلي رئیس او ښاغلي څېړونکي شریف الله دوست سره شریک کړل، هیله ده چې هغه نظریات په رساله کې پلې شوي وي او د دې رسالې په اړه زه خپل نظر داسې څرګندوم:

۱. د رسالې ترتیب او تنظیم په ښه ډول شوی او د پلان شوي (Outline) مطابق بشپړه شوې ده. رساله پر سریزې سربېره څلور څپرکي لري، چې په دې ډول دي: لومړی څپرکی د موضوع شالید دی، چې د موضوع په اړه پکې د شوي علمي کار جاج اخیستل شوی. دویم څپرکی دآریاني ژبو څېړنه، په ختیځو او لوېدیځو څانګو د هغوی ډلبندي دی، چې د آریاني ژبو د ختیځو او لوېدیځو ژبو ځینې ډلبندۍ پکې راوړل شوې دي. درېیم څپرکی له ۱۸۸۸م کال راپه دېخوا تر ننه د ټاکل شوو معیارونو د تطبیق څېړنه دی، چې د آریاني ژبو د تحول او تکامل پر معیارونو پکې خبرې شوي دي. څلورم څپرکی له همګروپو ژبو سره په مستند ډول د پښتو ژبې د نسبي اړیکو موندنه دی، چې د آریاني ژبو د ختیځې او لوېدیځې څانګې له ژبو سره پکې د پښتو ژبې نسبي اړیکې ښودل شوي او ورپسې رساله د پایلې، وړاندېزونو او مأخذونو په راوړلو سره بشپړه شوې ده.

۲. د آریاني ژبو د ډلبندۍ په برخه کې نورې هم ډېرې څېړنې شوي، خو د دې څېړنې توپیر او ځانګړنه دا ده چې د آریاني ژبو په ډلبندۍ کې د پښتو ژبې

دريځ له نوي ليدلوري او نويو بېلګو سره څېړل شوی دی.

۳. د دې څېړنې د ليکنې ژبه ساده او روانه ده، د ليکوالۍ اصول پکې تر ډېره بريده مراعت شوي، خو له دې املـه چې دا يـوه علمـي- څېړنيـزه رسـاله ده او د يـوې اکاډميکې علمي رتبې ترلاسه کولو لپاره ليکل شوې، نو کوښـښ بايـد وشي، چې پـه ليکنۍ برخه کې يـې د علومـو اکـاډمۍ پـه علمـي آثـارو کـې د پښـتو ژبـې د مروجـې علمي املاء او انشاء اصول په پام کې ونيول شي.

۴. پـر دې موضـوع د څېړنـې اهميـت او مبرميـت جـوت او څرګنـد دی، ځکـه پښتو د اندو-اروپايي ژبکورنۍ د آريک ژبښاخ د آرياني څانګې يوه مهمه ژبـه ده، نـو پـه کار ده چې د آرياني ژبو پـه ډلبنـدۍ کـې د پښـتو ژبـې ځـای او مقـام پـه بشـپړ ډول څرګند شي، د دې ژبڅانګې له نورو ژبـو سره د پښـتو ژبـې هـر اړخيـزه علمـي پرتليـزه څېړنه وشي او دا کار هله کېدای شي، چې د پښتو او آرياني ژبو پـه اړه علمـي څېړنـې وشي. دا حاضره څېړنه که څه هـم پـه دې برخـه کـې ابتـدايي ده، خـو مهمـه او غـوره هڅه ده، نو په کار ده چې پـه دې برخـه کـې دغـه ډول څېړنـې نـورې هـم وشي او دا مسله د علمي اصولو په رڼا کې نوره هم وڅېړل شي.

۵. د دې رسالې د ليکنې لپاره له غورو مأخذونو څخه ګټه اخيستل شـوې او پـه پای کې يې د مأخذ ليکنې له اصولو سره سم مأخذونه ښودل شوي هم دي.

د رسالې پورتنيو ذکر شويو ښېګڼو ته په کتـو زه دغـه علمـي- څېړنيـز اثـر مثبـت ارزوم، که څېړونکي د علمي ترفيع نور شرايـط بشـپړ کـړي وي، نـو لـه څېړنيـار علمـي رتبې څخه يې څېړندوی علمي رتبـې تـه د لوړېـدو وړ ګڼم او د نـورو علمـي چـارو پـه ترسره کولو کې ورته له خدای تعالی څخه توفيق غواړم.

په درنښت

څېړنوال دکتور رفيع الله نيازی

د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي منشي

# سریزه

پر آریاني ژبو باندې په ملي ژبه پښتو دومره کار نه دی شوی لکه په بهرنیو ژبو باندې، په ځانګړې توګه د ختیځې اروپا او لوېدیځې اروپا پوهانو چې کار پر کړی دی. که څه هم لوېدیځوالو او مستشرقینو ډېر پخوا د بشري تمدن د سرچینو او د بشر د لرغونو ټاټوبو په تړاو څېړنې پیل کړي دي او په دې برخه کې یې ملموسي لاسته راوړني هم لرلي دي تر څنګ یې د آریایانو (Aryans) پر پخوانیو ژبو لکه: سنسکریت، اوستا او زړې فارسي پر لوستلو او متن سمولو باندې هم برلاسه شوي دي خو لا هم په ټوله کې آریاني ژبې خورا لوی او غوړېدلي کار ته اړتیا لري.له شپاړسمي زیږدي(مېلادي) پېړۍ/ لسمي هجري پېړۍ را په دې خوا د آریاني ژبو د پېژندنې له پاره په اروپا کې علمي ګامونه واخیستل شول. په آریاني ژبو کې څېړنې په لومړیو کې یو عملي اړتیا وه خو په راوروسته کې یې په یوه علمي خپلواکۍ باندې بدلون پیدا کړ. د اتلسمي زیږدي پېړۍ په وروستیو او نولسمي زیږدي پېړۍ په لومړیو کې د دوو لروغونو آریاني ژبو (اوستا، زړې فارسي) د متونو کشف او لوستل چې د تاریخي، تطبیقي علمي ژبپوهنې له پیدایښت سره برابر وو لویه لاسته راوړنه شمېرل کیږي. د اروپا په ژبپوهنه کې د آریاني ژبو د خامو موادو ارزښت د نولسمي زیږي پېړۍ په لومړیو کې را څرګند شو. په دې اوږده واټن کې د آریاني ژبو په بېلابېلو برخو لکه: فونولوژي، مورفولوژي، سنټیکس، سمنټیکس او اشتقاق کې ارزښتمن آثار ولیکل شول. دې ته ورته د اتلسمي پېړۍ څخه سوکه سوکه په نړیواله کچه ختیځې آریاني،ژبې ته پاملرنه ډېره شوه. تر دې چې په ۱۸۸۸م کال په پاریس کې د ختیځې آریاني ژبې پښتو یو درونд کتاب (د پښتونخوا د شعر هار و بهار) د دارمستتر په لیکنه او څېړنه چاپ شو. تر دې اته ویشت کاله مخکې

(۱۸٦۰)د راورټـي ګلشـن روه چـاپ شـوی و او پنځـه کالـه وروسـته(۱۸۹۳م) يـې د پادري هيوز کليدافغاني په لاهـور کـې چـاپ شـو. دې کتـابونو پښـتو ژبـې تـه د نـورو آرياني ژبو په څنګ کې نړيوال هويت ورکړ. که څه هـم ځينـو مستشرقينو د پښـتنو د لرغوني فرهنګي ميراث د آثارو په ژباړلو کې ښويدنې کړي دي او هغه يـې يـا د پښـتو ژبې سره د بشپړ نه بلدتيا په پـار او يـا هـم د ځينـو غرضـونو پـه پـار پـه څـه تـوپير سره ژباړلي دي. د آرياني ژبو په تړاو د روسي پوه اُرانسکي کتاب، د روديګـر شـميت کتـاب د آريـاني ژبـو لارښـود او د کريسـتن بارتولمـه اثـر د آريـاني فونيمونـو تاريخچـه او د محمددبير مقدم اثر رده شناسـی زبـان هـای ايراني(آريـاني) آثـارو او د افغانسـتان پـه علومو اکاډمي کې د پروفيسور خليل الله اورمړ مقدمه بر زبـان او سـتايي او مقدمـه بـر زبان باختري، د څېړونوال رفيع الله نيازي اثر د اندو-اروپايي ژبو نسبي څېړنـه دا هغـه کتابونه وو چې د آرياني ژبو په پېژندلو کې يې لويه ونډه لرلې ده خو بيـا هـم پـه پښـتو ژبه کـې يـواځې د آريـاني ژبـو د ډلبنـدۍ او هغـه کـې د پښـتو ژبـې د دريځ پـه تـړاو ځانګړی اثر نه و هغه و چې د افغانستان د علومو اکاډمي مشرتابه يـې مبرميـت تـه پـه کتلو سره په خپل لس کلن پلان کې ځای ورکړ.

د څېړنې اهميت او مبرميت: لکه څنګه چې اړينه وه په پښتو ژبـه کـې د آريـانې ژبو د يوې ټوليزې ډلبندۍ په تړاو څېړنې نه وې شوي. په پاشلې توګـه ځينـې کارونـه او څېړنې د مقالو او يا هم کتابونو کې د يوې برخې په توګه کار شوی و خو داسـې يـوه اثر ته ټينګه اړتيا وه چې هغه کې د آرياني ژبو نسبتاً بشپړه ډلبندي راغلـې وي او هغـه کې د پښتو ژبې موقف او دريځ په ډاګه شوی وي. غوره خو لا دا وه چـې د آريـاني ژبـو سره د ټولو آرياني ژبو ويونکو قومونـو پـر بشـپړه اتنـوګرافۍ څېړنـه شـوې وای د هغـوی استوګن ځايونه د اوسنيو څېړنو په رڼا کې د يوې نوې نسبتاً ويړې او غوړيـدلې نقشـې سره په يوه دايرة المعارف کې راغونډ شوي وای. خو بيا هـم پـه دې اثـر کـې تـر کومـه

ځایه چې د څېړنې د توانه سره سمه وه په دې ټولو برخو کې معلومات وړاندې شوي دي. تر ممکنه بریده د آریاني ژبو د ویونکو قومونو ژبې، مېشت ځایو او د ویونکو شمېر ښودل شوی دی که کومه برخه پاتې وه هغه به د مأخذونه د نشتون نیمګړتیا وه چې په راتلونکې کې کېدای شي نور پوهان نوې او ویړې څېړنې په کې وکړي.

د څېړنې هدف: لکه د موضوع له نامه څخه چې ښکاري موخه او هدف دا دی تر څو د آریاني ژبو چې د نړۍ یوه ویړه او پراخه جغرافیه په بر کې نیسي- او ویونکي یې تر ډېره په آسیا کې ژوند کوي د دوی د ژبو پېژندګلوي؛ دا چې په کوم دریځ کې شتون لري؟ همداسې په څنګ کې ورسره د معاصرې ختیځې دآریاني ژبې پښتو موقف او دریځ روښانه کول تر څو په نَسَبي ډول یې تر منځ اړیکې او پیوندونه روښانه شي. هدف ته د رسېدو له پاره لومړی د څېړنې اوټلاین جوړ او د یاد اوټلاین له پاره څېړنه تر سره شوه چې ټاکلې موخه ورڅخه تر لاسه شوه، اوس نو موږ کولای شو چې د آریاني ژبو د ډلبندۍ او د دوی تر منځ د نَسَبي پیوندونو په تړاو په دې څېړنیز اثر کې په پښتو ژبه ګټور معلومات تر لاسه کړو.

د څېړنې مېتود: د موادو او شته موضوعاتو د څېړلو له پاره په دې څېړنه کې د تاریخي - تطبیقي مېتود څخه استفاده شوې ده. د څېړنې ډول کتابتوني دی.

په ټولیز ډول په دې څېړنه کې په تېر کې د دې کار پر شالید بحث شوی، همداسې د آریاني ژبو څېړنه، په ختیځو او لوېدیځو څانګو او د هغوی ډلبندي، له ۱۸۸۸م کال نه را په دېخوا تر ننه د ټاکل شوو معیارونو د تطبیق څېړنه، له همګروپو ژبو سره په مستند ډول د پښتو ژبې د نسبي اړیکو موندنه، لکه: د اوستا، باختري او پښتو ژبې نَسَبي اړیکې د همګروپو ژبو له لوېدیځې څانګې سره یې څېړنه او پلټنه. په آخر کې پایله، وړاندیزونه او په دې څېړنیز اثر کې چې د کومو مأخذونو څخه ګټه اخیستل شوې د مأخذونو لړ راغلی دی.

د بحث د راټولولو په موخه ویلای شم چې د یوې څېړنیزې موضوع او په ځانګړې توګه د یوې ویړې تاریخي جغرافیې او دې جغرافیې کې د مېشت قومونو چې په زرهاوو کلونو تاریخي مخینه لري د هغوی د لرغونې تمدن (ژبې، دودونه، ادب او معنوي پانګې) د څېړلو له پاره باید د ګڼې اخیستنې بې شمېره علمي او څېړنیز آثار موجود وي خو په خواشینۍ سره چې زه په دې علمي څېړنیزه پروژه کې د علمي آثارو د غوڅ کمښت سره مخ وم. هیله ده دا ستونزه راتلونکې کې حل شي او په دې برخه کې بیا څوک د مأخذونو د کمښت سره مخ نه شي. په پای کې د خپل قدرمن لارښود استاد مننه‌وی او دعاګوی یم چې په ناروغ ځان یې زما پوره پوره رهنمایي وکړه، له ټولو درنو پوهانو او ملګرو مننه‌وی یم چې د مأخذونو په برابرولو کې یې راسره مرسته کړې ده. دا دی تاسې د دې څېړنې لوستلو ته رابولم.

**نخښې او سیمبولونه**

په دې لیکنه کې ځینې نخښې او سیمبولونه کارېدلي دي چې د متن د لوستلو په وخت کې اسانتیا جوړوي:

// د فونولوژیکي حالت څرګندونه کوي.

[] د فونټیکي حالت څرګندونه کوي.

* ستوری د فرضي او یا هم ناکره شوي فونیم استازیتوب کوي. لکه: د آریک فرضي ژبې فونیمونه.

= د دوو فونیمونو، مورفیمونو او کلمو تر منځ مساوات ښیي.

< د زاویې خوله د فونیم د تحول او تکامل لرۍ ښیي.

> د زاویې څوکه د فونیم بدلون او تکامل ښیي.

/ʃ/ د نړیوالي فونیټکي ابېڅې(الفبا) د /ش/ فونیم ښیي.

/ þ / په یونان باختري لیک کې د /ش،ښ/ آواز ورکوي.